مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۹/۱۲

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۴۸مه‌برخه

## لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۹۸مه برخه

دا دی بیا د «سروکي یا نیمکۍ» په ملتیا، د همدې بحث خلورمه برخه تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کوم. تر دې برخې وروسته به ګورم چې که وتوانېږم نورې سروکۍ پیدا کړم، نو به یې د همدې بحث په پنځمه برخه کې درسره شریکې کړم:

:۱۹
پري جانه
مه‌ځه له میدانه جانانه

یواوارې بیا پر دې لار راسه
پر پخوانوپلونو دې پرېوتل ګردونه
پري جانه
مه‌ځه له میدانه جانانه

؟؟؟
چې سالوواله دې زړه غوارې
د قدو ښار په اجاره واخله مێنه
پري جانه
مه‌ځه له میدانه جانانه

له تا دې غم لا وفادار دی
ته کله ـ کله، غم دې تل راسره‌وینه
پري جانه
مه‌ځه له میدانه جانانه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ګل مې په لاس درته نيولی
يا مې ګل واخله، يا رخصت راکه چې ځمه
پرې جانه
مه‌ځه له ميدانه جانانه

چې خوله مې خورې، دغونه‌يې وخوره
شکره نه‌ده چې په تول به کمه‌شينه
پرې جانه
مه‌ځه له ميدانه جانانه

د سندرې په وروستۍ نيمايي کې سندرغاړی بل سرله دوولنډيو سره زمزمه کوي:

اورولګېدنه
تا په اوربل کې چې ټومبلي زيرګلونه مازديګر

پله؟ کې د رورردغاړه راوخله
زه به ګړی په لېه ورور - ورو ډکومه
اورولګېدنه
تا په اوربل کې چې ټومبلي زيرګلونه مازديګر

ته دې اختر په سبا راسه
زه به دروو‌زم توري سترګې سره‌لاسونه
اورولګېدنه
تا په اوربل کې چې ټومبلي زيرګلونه مازديګر

دا سر او دا لنډۍ د يوې منظمې ثبت‌شوې سندرې په ډول ما په کوچنيواله کې د راديو کابل له څپو نه اورېدلي وه، اوس دا دی هماغه پخوانی متن يې په ټولنيزه ميډيا کې هم راښکاره شو. دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/1555300956639355

:۲۰

بيا هم شفيع او بل سروکی او نورې لنډۍ، خو دا ځل ارمونيم غږونکی چې ما ونه‌پېژاند هم سروکی ورسره ورغبرګوي او هم په خپل وار سره لنډۍ اچوي:

ګله څنګ له دې درځم
جيب دې لټوم
تا له خيالي بازاره څه راوړي دينه

کرار به کېنم، څه به نه‌ويم
د سوال ياري ده اوس به ګډوډه‌شينه
ګله څنګ له دې درځم
جيب دې لټوم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

تا له خیالي بازاره څه راوړي دینه

مازدیګری به دې په غم شي
نیمزالي مهوره د منګي خوله کې ګلونه
ګله څنګ له دې درځم
جیب دې لټوم
تا له خیالي بازاره څه راوړي دینه

د جینکو مټاغې سترګې
چې په پردۍ مټه به خوب څنګه ورځینه
ګله څنګ له دې درځم
جیب دې لټوم
تا له خیالي بازاره څه راوړي دینه

امریکنيګلان به کېږدم
چې موټروان لالی مې سیټ کې کېنوینه
ګله څنګ له دې درځم
جیب دې لټوم
تا له خیالي بازاره څه راوړي دینه

هندوستانی میږه به وکم
د پښتونخوا په خاوره درېځل کوندېشومه
ګله څنګ له دې درځم
جیب دې لټوم
تا له خیالي بازاره څه راوړي دینه

سږی په نیمه‌لار کې پرېږدي
ملا په پردو راوړو څنګه وترمه
ګله څنګ له دې درځم
جیب دې لټوم
تا له خیالي بازاره څه راوړي دینه

کاغذ لیکلی ترینه واخلئ
خلکه د دې زماني یار دی ټګ به وینه
ګله څنګ له دې درځم
جیب دې لټوم
تا له خیالي بازاره څه راوړي دینه

دا ویدیو څلور دقیقې او لس‌ثانیې ده، دا لاندې یې لینک دی:
https://www.facebook.com/reel/953279600065300


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۲۱:
دا هم د شفیع صافي او شمس په غبرګو اوازونو کې یوه بله ویدیو چې په پیل کې سروکی او ورپسې په وار سره لنډۍ زمزمه کوي:

او نیمه شپه ده، غله لګېږي
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه

یوه د افسوس چیغه به وکم
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه
ویده به ویښ کم، ویښ به خوب وزنګوینه
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه

ځنګه کراره به ویده وي
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه
پر زړه بې نه‌وي د یارۍ سوي داغونه
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه

که اسویلی کم، اور به واخلي
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه
د لونګین مېرمني صبر مې دې وینه
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه

د دیدن وړي به ماړه کم
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه
(؟)
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه

د جنکو یاري مې وکړه
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه
(؟)
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه

لیلا زړه‌شوه، وار یې تېرشو
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه
(؟)
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه

په تول مې یوپاو زهر ورکړه
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه
دله مړ نه‌شو دوکاندار قرضدار یې کړمه
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او نیمه شپه ده، غله لګېږي
لونګین رانه ورکیږي په ما ګرانه

دا ویدیو چېرې د چا د خوښۍ محفل دی، ګڼشمېر خلک تر یوې لویې‌کېږدۍ لاندې ناست دي او سندرغاړي سندرې وايي. ویدیو درې‌دقیقې او پنځوس‌ثانیې ده، دا یې لینک دی:
https://www.facebook.com/reel/3271107003064702

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ